
# نثاراحمد  صمد واصفي صیب بنکلې لیکنې

## نثاراحمد صمد په فیسبوک کې



# Nisar Samad
Ketabton.com
# Wasifi

## ټولونکي:  صبورګل صابر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سرېزه

الحمدلله دالله شکر اداء کوم چې له ډېرو سختو مصروفیتونو سره سره وتوانېدم، چې د شاغلي واصفي صیب د فیسبوک لېکنې راغونډې کړم ، او تر خوږو وطنوالو یې ورسوم.

د مسافرې سخت مصروفیتونه وي، پهٔ دی هر مسافر پوهیږي، خو د واصفي صیب لېکنې می نه لورېدي چې حبث لاړي شي، نو له دې مصروفیاتو او نه امکاناتو سره سره مي دغه ده، دالله ښکر اداء کوم چې کتاب مې تکمیل کړ.

دري میاشتي مخکې مې له محترم واصفي صیب! ځخه د کتاب لېکلو اجازه واخېسته، محترم واصفی صیب! پهٔ ورین تندی دا غوشتنه ومنله، او ما هم دالله پهٔ توکل دا کتاب مکمل کړ.

پهٔ کتاب کې ټولې لېکنې دمحترم استاذ دلاس لیکل شوي لېکنې دی، ما هېڅ کوم تعدیل پکشې نه دی کړي، یوازي می دایډیټ پهٔ برخه کې کار کړي ده.

لیکل شوي کتاب ټول افغان ملت ته تحفه کوم او له ټولو هغو افغانانو غوښتنه کوم چې د سنسور پهٔ برخه کې یې پوره پوره هڅه راسره وکړي.

پهٔ پاې کې کتاب د محترم مرحوم پلارجان رحمة الله علیه روح ته ببنم، او د مرحوم لپاره دکتاب ویلو ترمخ د دعا لاسونه پورته کړئ، او د مغفرت دعا ورته وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## نصيحت

يو ځوان و يو سپين ږيري ته وويل چي نصيحت راته وکړه .

سپين ږيري ورته وويل : قرآن ولوله مخکي له دې چي، قرآن پر تا وويل سي !

لمونځ وکړه مخکي له دې چي، تا ته لمونځ درکول سي !

د نورو له تجربو څخه ګټه واخله مخکي له دې چي، ته د نورو له پاره تجر به شي.

حضرت عمر (رض) پر منبر ودرېد . شکېدلې چپنه يې اغوستې وه . له لوږي يې په ګېډه کی غرهار وو .

د خطبې په منځ کي يې وويل :

که غريږې او که نه ، قسم په خدای تر هغه به دې مَړه نه کړم تر څو د مسلمانانو اولادونه ماړه سوي نه وي !

## تريخ غړپ

د حسد تر ټولو ښه چاره او علاج دا دی چی د هغه چا سره چی حسد کوې نوم يې واخله او د خير دعا ورته وکړه . که څه هم دا ډير تريخ غړپ دی مګر له دننه دې ناروغي جوړوي . ته خو يې امتحان کړه !

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سوری پیاله

**دا ولی ډيري پيسې خرڅوو لاکن لږ شيان لرو ؟!**

**ډېر اجناس رانيسو خو لږ خوند ترې اخلو ؟!**

**عايد مو ډېر خو لاس مو تنګ دئ ؟!**

**آسانتياوي ډيري خو راحت لږ لرو ؟!**

**لوی علت يې حرص دی ، او د نننی انسان د حرص پياله ځکه نه ډکيږی چی په هغې کی د ناشکرۍ سوری دی چی ډکېدو ته يې نه پريږدي !**

---

## سؤ استفاده

**نرم زړئ انسان ساده يا احمق نه وی ، بلکی ښه پوهيږي چی خلک څنګه چپه او راسته لوبی ورسره کوی . خو بيا هم دئ پر دې هر څه سترګي پټوي دا ځکه چی زړه يې نرم ، پاک او ښايسته دی !**

**نو د چا له صداقته بده استفاده مه کوه چی دا هم يو خيانت دی .**

---

## خپل عمل د لارې مل

**ته به ښه وظيفه او مقام لرې ، ښه کورنۍ او قوم به لرې ، ښه نوم او نښان به لرې ، ښه کور او موټر به لرې ، ښه مال او دنيا به لرې....**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**آيا د دغو څخه يو شي هم قبر ته درسره وړي ببله عمله ؟**

**نو مه ناوخته کوه !**

---

## د درواغو بدبويى

**رسول الله (ص) وفرمايل : کله چى څوک درواغ ووايى نو د درواغو د بدبويي له امله ( د رحمت ) فرشته يو ميل ليرى ورڅخه ځى ( سنن الترمذى : ۱۹۷۲ ) .**

**خو زموږ ننني محيط؟!**

---

## سابقه د آينده سره وتړه !

**آيا داسى انسان سته چى ماضي بدله کړى ؟ آيا څوک راتلونکي بدلولاى سى ؟ قطعاً نه . خو ډير خلک په ماضى پورى کلک مښتى دي دومره آينده نه سنجوي لکه په ماضى کى چى بند دي .**

**نو د ماضى سره بايد څه وکړو ؟ دا چى ماضي نسو بدلولاى ، نه يې هيرولاى سو ، نه يې سمَوَلاى سو او نه يې حذف يا محوه کولاى سو . نو صرف يو کار کولاى سو هغه دا چى ماضى بايد ومنو او درس ورڅخه واخلو . يعنى سابقه او آينده سره وتړو .**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د انسان او رحمان رضايَيت

يو پاچا د نصيحت او پند اوريدلو ډير شوقی و . يوه ورځ يې يو متقی او زاهد عالم ته وويل چی داسی نصيحت راته وکړه چی انسان او رحمان دواړه راڅخه راضي سی .

عالم ورته وويل چی ډيره ساده خبره ده او هغه دا چی د ورځی فقيرانو او محتاجانو ته کومک ورکوه چی « انسانان درڅخه راضي سی » او د شپې پخپله د الله څخه فقر کوه چی « الله درڅخه راضي سی » !

په رښتيا هم دا نو دنيوي او اخروي برى دى . الله دی يې د هر شتمن ، هر سياست وال او هر چارواکې په نصيب کړی، آمين .

---

## کارلوس فونتس ويلی دي :

په دنيا کی چی می له ژونده تر ټولو غټ سبق زده کړ، دا دی چی هيڅوک د خپلو خبرو سره ورته او مشابه نه دی ! [ يعنی خبري او عمل يې اختلاف لری .

---

## پوښتنه

محترم وروره او محترمی خور ! په تا کی کومه داسی غلطي سته چی غواړې تر ټولو اول يې رفع او دفع کړې ؟ آيا هغه سُستي او ټنبلي ده ؟ آيا د سهار لمانځه ته نه راپاڅېدنه ده ؟ آيا د بې حوصله ګۍ ختموَنه ده ؟ آيا د بدګومانۍ پای ته رسوَنه ده ؟ آيا د درواغو بندوَنه ده ؟ او

(c) ketabton.com: The Digital Library

**كه د غيبت ځپنه ده ؟ اقلاً د يوې غلطۍ محوه كولو ته خو بايد لومړيتوب وركړې !**

**نو تر ټولو اول دروازغ ويل بند كړه بيا وګوره !**

---

## اول د ځان بدلون

**زموږ كمزوري دا ده چې د مقابل طرف د بدلون په لټه كې يو خو ځان مو هېر وي يا متوجه نه يو .**

**د فرعون ميرمنى تصميم ونيوئ چې بدلون ومومى ؛ د نوح (ع) زوى بيا د بدلون له پاره تصميم نه نيوئ ؛**

**لومړنۍ د يو سركښ او ظالم انسان ميرمن وه ، خو دوهم د يو پيغمبر زوى و .**

**نو د ځان سمون او بدلون هيڅ مقدمه نه غواړي او د نه بدلون له پاره بيا هيڅ پلمه د منلو وړ نه ده .**

**پس دا پخپله ته يې چې د بدلون تصميم ونيسې . يعنى تر څو چې په ځان كې د بدلون اراده ونكړې الله تعالى دې روان حالت نه بدلوي ( الرعد : ١١ ) .**

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ستا يې له خيره چې ناحقه وياړې ؟!

که ته ښايسته يې مه پرې نازيږه ، ځکه دا ښايست خو تا پخپله نه دی جوړ کړې ؛

که ته د يو خاص قوم يا نسل څخه يې په دې هم فخر مه کوه ، ځکه دا هم تا پخپله نه دی غوره کړی ؛

که ته د يو شتمن يا واکمن اولاد يې په دې هم وياړ مه کوه ، ځکه دا هم تا پخپله نه دی ګټلی .

دا ټول « بې ارزښته افتخارات » دي . نو ستا کمال دا دی چې په تقوا دې وویاړه ، په اخلاقو دې وویاړه ، په لياقت دې وویاړه ، په خدمت او صداقت دې وویاړه چې دا به نو ټول تا پخپله ګټلی وي . همدا د اسلام سپارښتنه او غوښتنه ده !

---

## مونږ تر سخت تعقيب لاندی يو

کله چې د ګناه ارتکاب کوې نو درې خبری حتمأ مدنظر ولره : الله دې وينی ، ملايکی يې ليکي ، او مځکه دی ګوري . نو تر څومره عظيم oتعقيب لاندی يې ، خو بيا هم ؟!

---

## مثبت فکره اوسه

هغه ( شی يا سړی ) چې ښه درته ايسی په غور يې مه ګوره ، داسی نه چې کومه خرابي پکښی پيدا سی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**خو هغه ( شی یا سړی ) چی بد درته ښکاری په غور يې ګوره داسی نه چی کوم ښه والی پکښنی پیدا سی .**

**هو ، بد خو بد دی ؛ ښه مه بد کوه ( ښه خو ښه دی ؛ که ښه يې نو بد درته ښه کړه )**

---

## هر ظالم ړوند او کوڼ دی

**انسان عمدتاً په درو طریقو سره مغرور کیږی : یا به ډیری پیسې لری او شتمن به وی ؛ یا به جسماً غښتلی او پیاوړی وی ؛ یا به لوړ مقام یا چارواکیً پلار لری . ځکه نو ظلم ، لویی ، حق تلفي او ډیر نور ګناهونه کوی .**

**ښه ، که يې الله تعالی د بدن یوه پُرزه سُسته کړی نو کړپیً او دربيً به يې تر آسمانه ورسیږی ، څو چی له مځکی به ووهل سی !**

**موږ ډیر دغسی مثالونه لرو خو هغوی پخپله کاڼه او ړانده دي !**

---

## له بهتانه ډډه

**وايي چی یو سړي مَهلب بن ابي صُفره ته بد وویل ، خو ده يې په ځواب کي هیڅ هم و نه ویل . یو چا ورته وویل : ولي دي د ده د بدو خبرو ځواب ور نه کړ ؟ _**

(c) ketabton.com: The Digital Library

مهلب وويل : د ده بدئ يا عيبونه را معلوم نه دي ، او دا مي هم خوښه نه ده چي د هغه څه په هکله بهتان پر ووايم چي په ده کي نسته .

هو ، الله دی هر مسلمان ته دغسی دینی تومنه ورکړی . په ربښتیا هم هغوی اسلام هضم کړی و ، خو موږ وګوره چی د اسلام څومره تېکه داري کوو لاکن په عمل کی هغسی نه یو.

---

## اې حق خوره او ظالمه !

دا حتمي نه ده چی د یو چا آه و فریاد یا ښیرا درپسې وی ، بلکی ځینی وختونه د یو چا تېنګ صبر او خدای ته پریښودل هم ستا خوښئ پیکه کوی او سکون دې اخلی ، خیر دی چی نن د غرور پر نیلی سپور یې .

که هوس دی نور دې بس دی !

---

## د خوش باورئ یا نیکی سزا

څومره د افسوس خبره ده چی پر یو چا باندی د ړندو په څیر باور وکړو ، او باالاخره هغه دا ثابته کړی چی په ربښتیا هم موږ ړانده وو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پر ځان او جهان بې اعتباره

« اعتبار » په دوستۍ او خپلوۍ کې د اکسیجن غوندې اهمیت لري . که پر یو چا « بې اعتباره » سوې نو د هغه دعاوې هم ښیراوې درته ښکاري ، او ښه یې هم په بدیو کې شمیرې .

دا ځکه چې د اکسیجن د نشتوالي له امله تړاوونه او رابطې بې تنفسه وي .

نو ځان له ناکامۍ وژغوره ، یعنې پر اعتبار مه بې اعتباره کیږه !

---

## کوچنی مغز ، لویه ژبه

ځینې خلک متأسفانه اوریدل لږ کوي خو خبري ډیرې کوي . دا داسې کسان دي چې مغز یې کوچنی خو ژبه یې غټه ده . مطلب دا چې موږ باید هر څه وسنجوو بیا یې ووایو نه داچې اول یې ووایو بیا یې وسنجوو . دا نو څه فایده ؟ باید مخاطب ستومانه او بیزاره نکړو .

پس مه پریږده چې ژبه دې تر فکر مخته سي !

---

## له ګناه کاره کرکه مه کوه !

د خرابو خلکو تر هیرولو او د ښو خلکو تر لټولو خو دا بهتره ده چې د خلکو خرابې خبرې هیرې کړو او د هغوی ښې خبرې ولټوو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دا ځکه چی انسان ثبات نلری، یعنی خراب خلک ښه کیدای سی او ښه خلک خراب کیدای سی .**

**مطلب دا چی علایم اهمیت نلری بلکی عوامل مهم دي . پس له ګناه باید کرکه وکړو نه له ګناه کاره !**

---

## بې انصافي

**د صدقې یا خیرات ورکولو له پاره په جیب کی په خورا لږ مبلغ ( یعنی سِکه ) پسی ګرځو . خو همدا مهال د الله څخه د جنت لوړترین مقام غواړو .**

**څومره ناڅیزه عطا کوو او څومره ستر عوض طلبوو !**

**بښکه چی الله رحیم او کریم دی ، مګر ته خو هم انصاف وکړه !**

---

## ځاني اصلاح

**تل ښه والی په نورو کی او بدوالی په ځان کی لټوه او سمّوه یې . که همدا فارمول مراعات کړې نو دا به ستا تر ټولو ښه والی او روحي سکون وی . امتحان یې کړه بیا وګوره !**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شتمن فقیر

کله چی ته وصت پاڼه لیکې ( یا شفاهي وصیت کوې ) ، آیا خبر یې چی یوازینی څوک چی ستا د مال او دولت یا جایداد څخه محروم پاتیږي ، هغه ته پخپله یې ؟!

چا ته خپل سهم پریږدې ؟ آیا هغه اولاد ته چی ډیر ژر به دې هیر کړی ؟ که هغه اولاد ته چی ستا د سهم یوه سلنه به هم نه درپسی خیراتوي ؟ که هغه اولاد ته چی ځان پوه او تا ناپوه بولی ؟

نو اوس لا ژوندی یې ، ستا د خپل سهم زیاته برخه صدقې ته وقف کړه ، داسی نه چی ناوخته سی ! آیا پوهیږې چی صدقه خورا افضل عبادت دی ؟ نو ولی یې ضایع کوې ؟ ولی دا کار هغه اولاد ته پریږدې چی د دنیا په کارونو کی تر غوږونو پوری ډوب دی ؟

که همداسی ونکړې نو پوه سه چی شتمن فقیر یې ( یعنی دلته شتمن او هلته فقیر ) !

---

## مهم پوهاوئ

کله چی ته د یو چا په څیره ملنډی وهې یا پر خاندې نو دا پر تصویر نه بلکی پر مُصور خاندې یا پر انځور نه بلکی پر انځورګر خاندې یا پر مخلوق نه بلکی پر خالق خاندي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تعادل ساته !

ځان په ژوند کی هیڅکله چا ته مه ورایله کوه ( یعنی په اختیار کی یې مه ورکوه ) . ځکه چی ننني انسان یوازی خپلی ګټی ته ګوری ، یعنی که ته پر ګران یې نو ستا بدی هیروي او که خوابدئ سو نو ستا نیکی هیروي .

متل دی چی مه دومره خوږ اوسه چی ودې خوری او مه دومره تریخ اوسه چی ودې غورځوي ! اسلام وسط او تعادل خوښوي .

---

## د پیسو طاقت

پیسې غوږونه نلري خو اوریدلی سي ، پښې نلري خو ځغستلی سي ، لاسونه نلري خو وهلی سي ، خوله نلري خو رغېدلی سي ، هیڅ نلري خو هرڅه کولی سي !

نو ځکه ظالمان بېغمه ظلم کوی ، فاسدان بېغمه فساد کوی ، زورواکان بېغمه خرمستئ او سرمستئ کوی خو څوک یې مخه نسي نیولای .

پیغمبر (ص) داسی فرمایی : « الله تعالی ظالم ته مهلت ورکوی او چی ویې نیسی او مؤاخذه یې کړی نو نه یې ایله کوی » .

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

## قادر او مقتدر ذات

یو قدرت چی لیدل ( بینایی ) خلق کوی ، یقیناً چی هغه بینا او لیدونکی دی . یو ړوند نسي کولای چی بینایی خلق کړی .

یو قدرت چی اورېدل خلق کوی ، نو هغه یقیناً اورېدونکی وی . یو کوڼ نسي کولای چی اورېدل خلق کړی .

یو قدرت چی ژوند خلق کوی ، نو هغه یقیناً ژوندی وی . یو مړ نسي کولای چی ژوند خلق کړی .

پس هغه خالق په صداقت سره ومنه چی هم « ښه لیدونکی » ، هم « ښه اورېدونکی » او هم « ژوند بخښونکی » دی !

دومره غفلت ؟

---

## راځی په خپل ګرېوان کی وګورو :

دا چی موږ د ډوډۍ خوړلو پر وخت ډوډۍ خورو ؛ د مطالعې پر وخت مطالعه کوو ؛ د کار پر وخت کار کوو ؛ د خوب پر وخت خوب کوو ؛ د مجلس پر وخت مجلس کوو ؛ نو د لمانځه پر وخت لمونځ ولی نه کوو ؟!

هره پلمه او حیله بې معنی ده .

---

## د عزت امید

احترام او درنښت ډیره ګرانه متاع ده چی هر څوک یې نه لری . نو د هغه طمع د ارزان بیه یعنی سپکو خلکو څخه مه کوه !.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په دنیا مه نازیږه

سعدي صاحب وایی : ته په کومه دنیا ویاړې ؟ هغه چی تر ټولو ښه خوراک یې د مچۍ توف کړي مواد [ عسل ] دي ؟ یا هغه چی تر ټولو ښه لباس یې د چنجي توف کړي مواد [ وریښم ] دي ؟

نو زه به له دې دنیا نه څه وغواړم چی حلال یې « حساب » لری او حرام یې « عذاب » لری ؟

سعدي صاحب یې چاره داسی بیانوي : د چا چی حساب پاک دی ، له احتسابه یې څه باک دی .

---

## د ژوند لنډیز

زموږ ژوند د درو مهمو اصلونو لنډیز دی : لومړی خنداوي چی محوه کیږی ؛ دوهم اوښکی چی وچیږی ؛ دریيم عملونه چی پاتیږی

---

## نا آرامه انسان

انسان کالي بدلوي ، کور بدلوي ، دفتر بدلوي ، دکان بدلوي ، موټر بدلوي ، لوازم او سامان بدلوي ، حتی اړیکی بدلوي خو بیا هم پریشانه او نا آرامه وی . دا ولی ؟

ځکه چی خپله رویه نه بدلوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خپل او د بل غم

د بل غم یوه ځغلنده صحنه ده چی ژر تیریږی .

پوه سه چی : د اوښکو هر څاڅکی د نړۍ تر هر شي ګران دی ، خو څوک یې تر هغه وخته په قیمت نه پوهیږی څو چی هماغه اوښکی یې تر خپلو سترګو نه وی بهیدلي .

---

## دایمی ښایست

ته د ځان ښایسته کولو ، سینګارولو او ښه معلومېدلو له پاره څومره کوښښ کوې . که د نېک عمله کیدو له پاره همدومره کوښښ وکړې نو دا به دایمی برتری او لاسبری وی . امتحان یې کړه بیا وګوره .

---

## ځان په ترازو کی

پر ځان د بل چا ګرانول خو دومره لویه خبره نه ده ، بلکی ډیره مهمه او مشکله خبره دا ده چی ځان پر بل چا ګران کړې .

---

## ریا نه بلکی خفا

د یو چا سره د کومک او مرستی پر مهال د هغه څیرې ته ډیر مه ګوره چی د دوو زیانونو امکان سته : لومړی دا چی ممکن ستا په دغه عمل سره هغه ځان حقیر وګڼی او دوهم دا چی د هغه شرمنده سترګی ښایی ستا په زړه کی د غرور تخم وکري .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په هوا کې مه ځه !

زموږ نوی ماډل موبایل تلیفون په لاس کې وی او د دنیا په هر شي ښه خبر یو ، خو متأسفانه له ځانه ناخبر یو !

---

## د خپلوۍ پرېکون

د خپلوۍ او دوستۍ رسۍ هغه وخت کمزوره کیږی چې انسان ته د غلط فهمیو له امله سوالونه ورپیدا سی ؛ خو هغه وخت پسی شکیږی چې دغسی پوښتنو ته ځوابونه هم پخپله جوړ کړی .

ننني ډیرې خپلوۍ د همدغسی بدګومانیو قرباني دي چې کشران د مشرانو رول پکښی لوبوي .

---

## مه ناوخته کوه !

محترم وروره او محترمی خور ، مرګ یو ځرګند راز دی . « ځرګند » ځکه چې هر څوک ښه پوهیږی چې مرګ حتمأ راتلونکی دی . خو « راز » ځکه دی چې هیڅوک نه پوهیږی چې هغه به چیری ، څنګه او کله وی .

نو مه ناوخته کوه . ځکه نن د عمل ورځ ده بېله حسابه ، خو سبا د حساب ورځ ده بېله عمله !

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يو عالم څه ښه ويلي دي :

دا مهمه نه ده چی انسان تر فضا يا سپوږمۍ پوری ورسيږی ، بلکی مهمه دا ده چی انسان د فضا او سپوږمۍ تر څښتن پوری ورسيږی !

---

## علم او ثروت

زوی له پلاره وپوښتل چی د خلکو په نزد علم ښه دی که ثروت ؟

پلار يې ورته وويل چی دواړه ښه دي . ځکه خلک پر دوو برخو ويشلي دي :

اول ـ عوام چی د ثروت له امله دې خوښوي .

دوهم ـ خواص چی د علم له امله دې ستايي .

هو ، د نننۍ زمانې له مخې دا يو علمي او عملي تحليل دی .

---

## د سبا تشويش مه کوه

د پرون او نن خدای د سبا خدای هم دی . موږ لومړی ځل دی چی بندګي کوو خو هغه د بې حسابه پيريو راهيسی خدايي کوی .

نو د خدای په خدايی عملاً باور او يقين وکړه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تر درانه پیټې لاندی

که له ژونده خوند اخلې نو په زړه کې آرمانونه لږ کړه بیا وګوره . پر ژوند باندی ډیره تکیه مه کوه ځکه هغه هر څوک له ځانه شړي او مرګ ته یې پوری وهي .

---

## د سمون توَمنه

خواجه نظام الدین دهلوي (رح) ښه ویلي دي : « هر څوک چې ووینې نو تر ځان یې بهتر وبوله که څه هم ته اطاعت کونکی او نیک عمله یې خو هغه ګنهکار وی . کېدای سی دا ستا آخري اطاعت او نیکي وی خو د هغه آخري ګناه وی ، چی په دې ډول به ته ګنهکار سې او هغه به نیکوکار سي . »

داعالی پوهوَنه د ځانی او اجتماعی سمون تومنه لری . نو ښه به دا وی چی د خپل ژوند د لاری څراغ یې وګرځوو . بس یوه قلبي اراده غواړي .

---

## الله تعالی ستر قاضي دی

موږ هر یوه ځان پخپله قاضي ټاکلی دی . بیله دې چی دا راته معلومه او ثابته سی چی د الله تعالی په نزد څوک ښه دی او څوک بد دی ، یا څوک حق دی څوک ناحق دی بس لګیا یو پخپل سر قضاوت کوو ، خپله فتوا صادروو او خپلی ټاپې وهو !

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو څومره خطاکاران او ګناه کاران يو چې د الله تعالی په فيصله کی هم مداخله کوو .

---

## محتاط اوسه

که ستا د خولې څخه يوه خبره راوځی يا يې په قلم سره وليکې ، نو يوه سه چی دا به حتمأ په يوه محکمه کی ثابتوې که هغه دنيوي محکمه وی يا اخروي محکمه !

نو محتاط اوسه .

---

## له شيطانه د نجات لاره

يو استاد له خپل شاګرد څخه وپوښتل چی که شيطان کومه ګناه ډيره درته ښکلې او جذابه کړی ، نو څه ورسره کوې ؟ شاګرد ځواب ورکړ چی مقابله او جهاد ورسره کوم .

استاد ورڅخه وپوښتل که هغه بيا هم همداسی وکړی ، نو څه کوې ؟ شاګرد ورته وويل چی بيا هم جهاد او مقابله ورسره کوم .

استاد ورته وويل چی دغه لاره ډيره ستونځمنه ، اوږده او ستومانيزه ده . بهتره چاره يې دا ده چی د سپي له شره د هغه څښتن ته پناه يوسه !

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د اوږده ژوند لنډيز

**د انسان د ژوند نېکمرغي پر درو پايو ولاړه ده :**

**د پرون څخه تجربه اخيستل ؛ د نن څخه استفاده کول ؛ او د سبا څخه امید لرل .**

---

## خو موږ برعکس ځو :

**د پرون غم کوو او نه يې پرېږدو ؛ نن درگرده ضايع کوو ؛ او د سبا څخه بيره او وهم لرو .**

**نو بويه څنګه به ګټمن او بريمن سو ؟!**

---

## ځان پخپله وهل

**د يو چا سره د بُغض او حسد معنى دا ده لکه ته چى يو چا ته په خپل دماغ کى ببله کرايې څخه ځاى ورکړې او له امله يې ستا دماغ تنګ او تخته سى .**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## عقيده او حقيقت

يو عالم ويلی دي : عقيده کيدای سی چی زما عقيده وی ، ستا عقيده وی ، د فلاني عقيده وی ؛

خو حقيقت نسي کيدای چی زما حقيقت وی يا ستا يا د فلاني حقيقت وی .

حقيقت اصلاً د هيچا مربوط نه دی بلکی آزاد او د ټولو دی .

له همدې امله خلک تل د عقيدې په سر جنګيږی نه د حقيقت په سر !

استغفرالله .

## د الهي نعمت يوه بيلګه

موږ له سره تر پښو پوری د الله تعالی په بې حسابه نعمتونو کی پټ يو . نعمت يوازی دا نه دی چی مال او دولت ولرو ، بلکی :

د سترګو بينايی هم نعمت دی ؛ په دماغ کی ښه فکرونه هم نعمت دی ؛ په زړه کی د چا درد احساسول هم نعمت دی ؛ په رګو کی روانه وينه هم نعمت دی ؛ د چا د اوښکو پاکول يا وچول هم نعمت دی ؛ او تر ټولو مهمه دا چی د ايمان لرل پخپله ستر نعمت دی....

نو بيا موږ د خپل رب د بې حسابه او سترو نعمتونو شکر ولی نه ادا کوو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## درواغ ، درواغ دی

درواغ هم خپله مزه او ذایقه لری . که یې ته وایې نو خوږ وی او که یې بل وایی نو تریخ وی !

درواغ ویل او درواغ اوریدل د یوې سِکې دو مخه دي .

---

## زنګ وهلي اړیکی

کله چی په مسایلو او روابطو کی اختلافات ډیر وی ، آوازونه لوړ وی ، شخړي لاینحله وی ، علم لږ وی ، دلیل بې کسه او منطق بې وسه وی نو پوه سه چی خاموشي او پټه خوله اصلي ګټونکی دی !

---

## له امتحانه وډارېږه !

که یو څوک د هغه د ماضي په خاطر ذلیل کوې یا ترټې یا پېغور ورکوې ، پر هغه خو تیره سوه . نو له خدایه وبیرېږه داسی نه چی د هغه ماضي ستا آینده سی !

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پر الله تعالی انتقاد مه کوه !

لقمان په عمل ډیر ښکلی و . خو په څیره بدرنګه و . یوه ورځ یو چا ورته وویل چی ای لقمانه ! څومره بدرنګه یې .

هغه په ځواب کی ورته وویل چی د هر شي خالق الله تعالی دی . نو زه ستا څخه پوښتنه کوم چی آیا زما د څیرې عیب لټوې او که د الله تعالی عیب لټوې ؟ دا خو صرف الهی اراده او فیصله ده چی زه باید دغسی بدرنګه اوسم ، نو ستا انتقاد پر ما نه دی بلکی پر الله دی .

سړئ په دې منطقي دلیل سره قانع او پټه خوله سو او د دغسی بیهوده خبرو څخه یې توبه وکړه .

خو موږ څنګه یو ؟!

---

## انساني اوصاف

دا چی موږ یې انسان پیدا کړي یو ، « زموږ کمال او اختیار » نه دی بلکی د الله ستر رحمت او نعمت دی . خو په ځان کی انسانیت جوړول « زموږ کمال او اختیار » دی !

---

## ګناه حتی عادي بولي

رسول الله (ص) فرمایی : که په کوم ځای کی ګناه کیږی خو خلک هغه عیب و نه ګڼی نو هغوی ټول په دې ګناه کی شریک دي ( ترمذی او ابو داؤد ) ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

**استغفرالله ، څومره عظیم خبرداریٔ دی .**

**راسئ چی اوس نو خپل ځان ، خپل مجلس او خپل چاپېریال و ارزوو چی څنګه یو ؟!**

---

## نږدې هم وګوره!

**اې بې خبره او اې بې پروا انسانه ، په خپل دولت او جسمانی طاقت باندی ډیر مه نازیږه ، ځکه غریبي او ناروغي ډیر نه ځنډیږی !**

**نور نو مه ناوخته کوه !**

**آیا شیطان کومه زنا کړې وه ؟ شراب یې څښلي وو ؟ قمار یې کړی و ؟ څوک یې وژلی وو ؟ شِرک یې کړی و ؟ نو څه ګناه یې کړې وه چی الله تعالی د همیشه له پاره لعنت پر ووایه ؟ ځواب دا چی صرف د یوې سجدې څخه یې انکار وکړ .**

**خو هغه کسان چی لمونځ نه کوي ، هره ورځ د څو سجدو څخه انکار کوي ؟ د ۳۴ فرضي سجدو څخه . استغفرالله !**

**شیطان و انسان ته د سجدې څخه انکار وکړ خو موږ رحمان ته د سجدې څخه انکار کوو ( هغه هم الهي امر و او دا هم الهي امر دی ) . استغفرالله !**

**که هوس دی نور دې بس دی . ځکه نن د عمل ورځ ده بېله حسابه خو سبا د حساب ورځ ده بېله عمله !**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دنیوي او اخروي برى

د خلکو سره دومره بد سلوک مه کوه څومره چې هغوی بد دي ، بلکې د هغوی سره دومره ښه سلوک کوه څومره چې ته پخپله ښه يې .

---

## د فکر او عمل ازموينه

که تا کومه نيکي کړې وی نو مه يې يادوه ؛ که بل چا کومه ګناه کړې وی دا هم مه يادوه .

ځکه چې د خپلې نيکۍ پېژول « ستا د فکر امتحان » دی خو د بل د ګناه پېژول بيا « ستا د عمل امتحان » دی !

دا دنيا د امتحان صحنه ده . نو که برى غواړې ، خپل « سوچ » او « عمل » دې ازمويلی لره.

---

## د جنت سرداره

الله تعالی جنت را اخيستی دی او د مور په پښو کی يې ايښی دی . نو د زړه به يې څومره مقام وی ! چې مور دې و نه بخښی الله دې هم نه بخښی . مارک ټوين وايی : « له مينی نفرت کوم ، ځکه يو ځل مين سوم مور مې هېره کړه . »

هو ، دوه شيان دي چې زامن له موره بېلوي : پيسې او واده !

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور د کور هسته ده . د هغې تر تک وروسته الکترون ، پروتون او نیوترون خپل وزن له لاسه ورکوی او اتوم گوگ او منځ تشی سی .
نو د دې پر ځای چی په پښېماني او سرځوړی سره د هغې قبر ته ژاړې ، همدا اوس راویښ سه !

---

## د گناه کیفیت

که گناه رنگ درلودلی ، نو هیچا به هم یو د بل صورت ته له شرمه نسو لیدلای .

که گناه بوی درلودلی ، نو هیڅوک به هم له تعفنه یو بل ته نسو نږدې کیدای .

دا هم د څښتن تعالی یو رحمت دی چی د گناه رنگ او بوی یې پوښلی دی . خو په « ستره ورځ » به یې د ټولو په مخکی رسوا کوی .

نو د گناه څخه وبیرېږه هغه هم د شاهد په مخکی ، هغه شاهد چی سبا پخپله ستر قاضی دی !

---

## گوره اې ناځوانه او نامرده !

کومه خبره چي د چا په وړاندي نسې کولی هغه خبره د هغه تر شا هم مه پسی کوه ، ځکه دا غیبت دی . او که دروواغ ورپسی وایې نو دا تهمت دی . ـ

پوه سه چي الله تعالی هر وخت ښه لیدونکی او ښه اورېدونکی دی ، له هغه خو شرم وکړه !

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ولی طمع او ګیله ؟

په داسی دنیا کی چی یوه ورځ زما او ستا خپله روح هم راڅخه ځی او یوازی مو پریږدي ، نو د نورو څخه ولی طمع او ګیله وکړو ؟

---

## نه افراط نه تفریط

د ژوند سره له حده زیاته مینه مه کوه ، ځکه چی هغه د هیچا سره وفا نه ده کړې ( حتمأ یې له ځانه شړي ) . خو مرګ بیا هیڅکله مه هیروه ، ځکه چی هغه د هیچا سره جفا نه ده کړې ( حتمأ یې د ځان کوي ) !

نو د زوکړې او مړینی تر منځ خورا لنډ واټن دی چی د سترګو په رپ کی ځی ( یعنی له هیڅ نه تر هیڅ پوری ) .

---

## حضرت مجدد الف ثانی (رح) ویلی دي :

د چا چی نظر په کنټرول کی نه وی د هغه زړه هم په کنټرول کی نه وی او د چا زړه چی په کنټرول کی نه وی د هغه شرم ګاه به هم په کنټرول کی نه وی .

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

## عادي خو اساسي سمون

که ته په هینداره کی دقیقاً وګورې نو ضرور به خپله څیره یا ( ښه ) درته ښکاره سی یا ( بده ) . نو هر ځل چی هیندارې ته ګورې په پاک زړه او پاک وجدان سره پکښی ګوره . که بالفرض خپله څیره بده درته ښکاره سوه نو بد کارونه بند کړه ؛ او که ښه درته ښکاره سوه نو په بدو کارو یې مه خرابوه . دا عمل تجربه کړه بیا وګوره !

---

## د غټی بیزو عدالت

روایت دی چی دوې کوچنۍ بیزوګانی د یوې ډوډۍ په سر نه سره جوړېدې . فیصله یې وکړه چی غټه بیزو به قضاوت او عدالت کوی . دواړی غټی بیزو ته راغلې او خپله دعوه یې ورته وړاندی کړه .

غټی بیزو هم ډوډۍ نیمه کړه او هره ټوټه یې د ترازو په دوو پلو کی کښېښوولله . هغه ټوټه چی تر بلی لږ درنه وه نو یوه ګوله یې ځنی وخوړله او بیا یې دواړی د ترازو په دواړو پلو کی کښېښوولې .

دا ځل هغه بله درنه سوه ، د هغې څخه یې ګوله واخیسته او هغه یې وخوړله خو بیا لومړنۍ والا درنه سوه څو چی په دې ترتیب یې ټوله ډوډۍ سوکه سوکه د دواړو بیزوګانو مخته وخوړله او هغوی په مأیوسۍ سره یو بل ته کتل او مخ پر ځنګله ورېي ولاړې .

استغفرالله ! نني جابران ، قاضیان ، څارنوالان او قدرتمندان کټ مټ عدالت او قضاوت کوی . د نورو حق خوری او ظالمانه فیصله کوی . الله دی یې اصلاح کړی ، داسی نه چی ناوخته سی .

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د زړه ازار

که په دیوال کی چاکونه ( درزونه ) پیدا سی نو هغه نړیږی او رالویږی ، خو که په زړه کی درزونه پیدا سی نو هغه دیوالونه کیږی او بندیږی .

نو د چا زړه مه آزاروه .

---

## د شیطان مرستیالان

ننننیً انسان څومره له خپلی ټاکلې او پېیلې لاری څخه اوښتی دی . د لارښوونی او پوهوَنی له پاره یې یو لک او څلیرویشت زرو پیغمبرانو کفایت ونکړ خو د ګمراه او خطا کولو له پاره یې فقط یو شیطان کفایت وکړ !

نن متأسفانه ځینی اِنسي شیطانان حتی د اصلي شیطان څخه هم وړاندې تللی دي ! استغفرالله .

## بیده ضمیر

په دنیا کی تر ټولو آسانه کار خبري کول دي ، په خبرو کی تر ټولو آسانه کار انتقاد کول دی ، په انتقاد کی بیا تر ټولو آسانه کار په فېسبوک کی د بل سپکول او ترټل دي .

دا ځکه چی دلته آزادي چوکاټ نلری ، مسؤلیت حدود نلری او وجدان محاکمه نلری . هر څه چی لیکې او هر څه چی وایې آزاد یې ، مګر

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو کنټرولر لرې چې هغه د خپل وجدان راویښېدل دی . نو راځئ چې د ژبې حرمت او د قلم عفت وساتو .

---

## ځان خپل

د یو عالم څخه یې وپوښتل چې غوصه څه شي ده ؟ ویې ویل چې د بل چا د غلطۍ سزا ځان ته ورکول غصه ده.

---

## د دعا طاقت

یوه سندره کولای سی چې یو ګړی دې بدل کړی ؛

یو مجلس کولای سی چې یوه ورځ دې بدله کړی ؛

یو ګام کولای سی چې یو سفر دې بدل کړی ؛

یو فکر کولای سی چې یو څو کاله دې بدل کړی ؛

خو یوه دعا کولای سی چې ناممکن دې بدل کړی

## کنجوس او حریص

یو عالم څه ښه ویلی دي : بهتره او غوره دا ده چې د یو شتمن په حیث ژوند وکړو نه دا چې د یو شتمن په حیث ومرو .

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

## موږ خو له خپلو ژاړو

یوه ورځ « سره زر » او « اوسپنه » سره ناست وو خبری یې کولې . سروزرو په مجلس کی اوسپني ته وویل چی زه او ته دواړه په چکش وهل کیږو ، خو ته ولی ډیر فریاد کوې او نارې وهې ؟

اوسپنی ورته وویل چی کله دې خپل وهي نو درد هم خورا زیات وی .

---

## ټکماري او چالاکي

علامه البیرونی ویلی دي : خلک به ستا زړه آزار کړی او بیا به داسی رویه ښییً لکه تا چی د هغه زړه آزار کړی دی .

## ظاهري او باطني پناه

زموږ استغفار هم استغفار ته اړتیا لری ، ځکه چی په هغه کی اخلاص او صداقت نه وی .

( رابعه بصري رحمه الله عنها )

## د عیبونو لټول

یو چا بلبل ته وویل چی څومره ښه آواز لرې خو کاشکی تور نه وای !

سمندر ته یې وویل چی څومره ګټور یې خو کاشکی تریو نه وای !

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګلاب ته يې وويل چې څومره خوش بويه يې خو کاشکې بې اغزيو وای !

هغوی ورته وويل چې اې انسانه ، څومره بختور يې چې « اشرف المخلوقات » يې ، خو کاشکې دې د بل عيب نه لټولیً !

## الله تعالی سختې نه خوښوي

دا ثابت حقيقت دی چې الله تعالی سختي نه خوښوی ، او ښايي له همدې امله په ژبه کی هډوکی نسته ( والله اعلم ) .

رسول الله (ص) فرمايلی دي : څوک چې پر الله جل جلاله او د آخرت په ورځ ايمان لری يا خو دې د خير خبره وکړي يا دې چُپ پاته سي .

وايی چې کوم وخت ژبی په خوله کی ۳۲ غاښونو ته وويل چې تاسی زما څنګه ښه ورونه ياست . پر ما څونه ډيره پاملرنه کوئ . ستاسو د دې پاملرنې له امله زه ستاسو په منځ کی څومره آزادانه خوځيږم او ږغيږم .

غاښونو په ځواب کی ورته وويل چې : خوږې ، تا خو صحيح خبره وکړه ، مګر ته هم بايد زموږ خيال وساتې . داسی نه چې د خلکو سره بد چلند او تونده لهجه استعمال کړې او موږ په بلا ګرفتاره کړې ، يعنی چې څوک ستا ۳۲ ورونه د کور څخه دباندی و نه شړی .

## عجيبه ده !

دلته هر څوک د خپلی راتلونکې د سمون او ښه والی په فکر کی دی ، خو دا يې هيره کړې ده چې : آيا آخرت هم ستره آينده نه ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بهترین فرصت

رسول الله (ص) فرمایلی دي : څوک چی درواغ ویل او په هغه عمل کول نه پریږدي ، نو الله تعالی هیڅ نه غواړي چی دئ خوړل او څښل بند کړی .

صحیح بخاري ( حدیث نمبر ۱۹۰۳ ـ کتاب الصوم ) .

استغفرالله ! نو راځی چی ناحقه لوږه او ناحقه تنده په صحیح روژه سره بدله کړو . بس یوه ټینګه اراده یا رښتین قسم غواړي . همدا میاشت یې بهترینه موقع ده .

---

## شاه کیلی

یو ځوان کوم مشهور شیخ ته ورغی او داسی یې ورته وویل : په ژوند کی می درې قلفونه پیدا کړي دي او ستا څخه یې کیلۍ ګانی غواړم . شیخ وپوښتل چی دا کوم قلفونه ( قفلونه ) دي ؟ ځوان ورته وویل :

لومړنی قفل دا دی چی غواړم یو ښه واده وکړم ؛

دوهم قفل دا دی چی غواړم کار می ښه برکت پیدا کړی ؛

درېیم قفل دا دی چی غواړم عاقبت می ښه سی .

شیخ په نرمه لهجه ورته وویل چی :

د لومړني قفل له پاره کیلي دا ده چی لمونځ پر خپل وخت کوه ؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د دوهم قفل له پاره کیلي دا ده چی لمونځ پر خپل وخت کوه ؛**

**د دریېیم قفل له پاره کیلي دا ده چی لمونځ پر خپل وخت کوه .**

**ځوان عرض وکړ چی آیا دا درې واړه قفلونه په همدې یوه کیلی خلاصیږی ؟**

**شیخ ځواب ورکړ چی پر خپل وخت باندی د لمانځه ادا کول د ټولو کامیابیو اساس یعنی « شاه کلید » دی .**

---

## اې ژبې له خدایه وبیریږه !

**پیغمبر علیه السلام وفرمایل : کله چی سهار سي نو د انسان په جسم کی چی څومره اندامونه دي هغوی ټوله ژبې ته ووایي : اې ژبې ، له خدایه وبیریږه ! ځکه چی موږ ټول ستا تابع یو ، که ته سمه یې نو موږ به هم سم یو او که ته ناسمه یې نو موږ به هم ناسم یو ( ترمذی ) .**

**هو ، په رښتیا چی ژبه هم کلا ده هم بلا . موږ او تاسی ګورو چی د ژبی وزن ډیر سپک دی ، خو خورا لږ خلک هغه اخیستلای او سنبالولای سی ! حضرت ابوبکر صدیق (رض) فرمایلی دي چی « انسان ته ډیر مصیبتونه د خپلی ژبی څخه ورپیښیږی .»**

**په رښتیا هم خوږه ژبه د الله (ج) یو نعمت دی . فیثاغورث ویلی دي چی « د بدن د ټولو غړو له جملې څخه ژبه ډیره سرکښه ده .» نو که موږ او تاسو دغه سرکښه غړی کنټرول کړو ، معنی دا چی تر نیمایی زیات ګناهونه مو کنټرول کړل ! پس الله دی هر مسلمان ، منجمله هر افغان ته د ژبی د صحیح مهارولو توفیق عطا کړی .**

(c) ketabton.com: The Digital Library

مګر هو ګرانو دوستانو ، زهرجنه او نفرت پارونکي لیکنه هم په بده ژبه کی شامله ده !

---

## مسلمان ته ښکنځل

یوه ورځ د جعفر الصادق (رح) مجلس ته یو مسلمان راغی او په مجلس کی یې یو بل مسلمان ته ډیر ښکنځل وکړل .

جعفر صادق (رح) ورڅخه وپوښتل چی آیا د رومیانو سره جنګېدلی یې ؟

هغه ورته وویل چی یا ، نه یم جنګېدلی .

جعفر صادق (رح) ورڅخه وپوښتل چی د کسرا د کسانو ( یعنی ایرانیانو ) سره جنګېدلی یې ؟

هغه ورته وویل چی یا .

جعفر صادق (رح) ورڅخه وپوښتل چی آیا د کافرانو سره دې جهاد کړی دی ؟

هغه ځواب ورکړ چی یا .

حضرت جعفر (رح) ورته وویل چی سبحان الله ! ستا له لاسه روم ، فارس ، یهود او نصارا ژغورلی دي ، خو مسلمان درڅخه ژغورلی نه دی !

په دې سره هغه سړی ځانته متوجه او اصلاح سو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**نو ځومره به ښه وی چی خپله ژبه د ښکنځلو ، بد ویلو او سپکولو څخه وژغورو تر څو ایمان مو شتمن او وجدان مو ځواکمن وی انشاالله .**

---

## اوس هم وختي دی

**که ته لمونځ نه کوې نو ځان ته دا برأت مه ورکوه چی وخت نلرې ، بلکی داسی فکر کوه چی تا ضرور داسی ګناهونه کړي دي چی الله تعالی نه غواړي تا په خپل حضور کی ودروي .**

**نو اوس هم وختي دی !**

---

## ناکام کوښښ

**دنیا او دولت په نصیب سره حاصلیږی او جنت په عمل سره . لاکن موږ دنیا او دولت په عمل سره پیدا کوو خو جنت مو نصیب ته پرې ښودی دی . بویه څنګه به دلته شتمن سو او هلته ګټمن ؟!**

**حضرت علی (رض) ویلی دي : ـ**

**وخت او دولت دوه داسی شیان دي چی د انسان په کنټرول او اختیار کی نه دي . وخت یې مجبور کوی او دولت یې مغرور کوی .**

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هم خوښي هم بېغمي

که خوښي او کاميابي غواړې نو دوه شيان هير کړه : هغه « بد سلوک » چې يو چا درسره کړی وی ، او هغه « ښه سلوک » چې تا د چا سره کړی وی . امتحان يې کړه !

---

## وړيا ګټه

ستا غيبت کونکی په حقيقت کی تا ته ګټه رسونکی دی ، ځکه خپلی ښيګڼی ستا د عمل په پاڼه کی ليکی . يعنی خپلی نيکئ وړيا درکوی .

نو پام چی ته هم کټ مټ خپلی نيکئ بل ته مفتې ورنکړې !

---

## د انټرنيټ دنيا

يوه ورځ موږ ټوله د دې دنيا څخه ځو . پاته به سي زموږ خبری ، ليکنی ، کامنټونه ، شعرونه ، اپلوډ کړي ويډيوګانی ، خپاره کړي تصويرونه.... چی يا به ښه وی يا بد ( دا په مجموع کی زموږ اعمال دي ) . —

نو اوس په موږ اړه لری چی خپلو نيکيو ته پاېښت ورکوو که بديو ته . که زموږ خوښه وی يا نه ، دا ټول راپسی ليکل کيږی او ستر قاضی ته به وړاندی کيږی !

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ستر احسان

آیا پوهیږې چی پر تولنه به ستا لوی احسان څه وی ؟ هغه دا دی چی خپل ځان اصلاح کړه !

په دې سره به د تولنی یو بد انسان کم سوی او ښه انسان زیات سوی وی !

---

## د ځان اسطاعت

هیڅکله مه وایه چی ستړی یم !

ځکه دا ثابتوې چی کمزوره یې . بلکی ووایه چی « استراحت او دمي ته اړ یم . »

هیڅکله مه وایه چی نسم کولای !

ځکه د خپل توان او طاقت څخه انکار کوې . بلکی ووایه چی « کوښښ کوم . »

هیڅکله مه وایه چی خدایه ! نو کله ؟ ـ

ځکه د خدای (ج) په کار او فیصله کی مداخله کوې . بلکی ووایه چی « یا الله ! پر صبر می را اضافه کړه . »

په دې سره به نو روحاً پیاوړی یې . امتحان یې کړه !

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د برکت الوتل

چی خبری ډیری سوې ، عملونه کم سول ؛

چی انتقادونه ډیر سول ، اصلاحات کم سول ؛

چی وعدې ډیری سوې ، اجرأت کم سول ؛

چی سینګار ډیر سو ، ښایست کم سو ؛

چی لباسونه ډیر سول ، حجابونه کم سول .

نو د برکت الوتل لا تور وی که سپین ؟

---

## دوې ستری خزانې :

یوه د دې دنیا او بله د هغې دنیا خزانه ده او الله تعالی د دواړو خزانو کیلۍ مور ته راکړي دي . یعنی د دې دواړو جهانو خزانې تر ژبی لاندی پټې دي .

---

## منځ تشی انسان

که ننني اکثریت انسانان په غور مطالعه کړو نو وبه وینو چی :

ځان یې پرې ییښی وی خو نور نه پرېږدي !

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل زړه يې تور وی خو د نورو زړونه سپينوي !

د ځان د کنټرولولو نه وی خو ټولنه کنټرولوي !

او بالاخره الله يې پرې ښه نه وی خو الله لټوي !

نو آيا دغسی انسان منځ تشی او ګوګ نه دی ؟!

---

## عناد او حسد

د يو ملنګ څخه يې وپوښتل چی ولی په دنيا کی هر څوک ناآرمه حتی غمجن دی ؟

هغه په معنی داره موسکا ورته وويل چی خوښی خو د هر انسان سره مل دي ، لاکن ستونزه دا ده چی د يوه خوښي د بل درد وی !

استغفرالله .

---

## يو عالم څه ښه ويلی دي :

هغو خلکو ته ډير حيران يم چی د داسی دنيا په تلاښ کی دي چی ورځ په ورځ ترې ليری کيږی خو د هغه آخرت څخه غافل دي چی ورځ په ورځ ورنږدې کيږی !

(c) ketabton.com: The Digital Library

## جاپانیان یو عجیب ښه متل لری :

**که نارې ووهې نو خلک دې « آواز » اوری ؛ خو که آرام ووایې نو خلک دې « خبره » اوری !**

**هو ، څومره به ښه وی چی پر کلماتو زور وکړو نه پر آواز او غرغړو . دا خو باران دی چی ګلان شنه کوی نه تالنده !**

---

## عظیم بری :

**کله چي ته د چا بدي وایې ، نو دا ته خپله بدي بیانوې . که هغه بد وی او که نه ، ته خو بد ( یا بده ) سوې !**

**نو مه د بل بدي وایه ، مه یې اوره او مه یې مجلس تازه کوه بلکی تحریم یې کړه .**

---

## د وجدان محاکمه

**کله چی ستا وجدان تا ملامتوي ، محکوموي او جزا درکوي بیا نو ټوله دنیا هم نسي کولای چی تا وبخښی !**

**نو آیا کوم ظالم او ګناه کار به د خپل وجدان له خوا خپله ملامتي او محکومي ومنی؟**

**ځواب منفی دی او ځکه نو ظلم او فساد مسلط دی .**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لا تر څو؟

**علامه ابن رجب (رح) وايي: « که په نېکو کارونو کي د نېکانو سره سيالي نسې کولای ، د ګناه کارانو سره خو په استغفار او توبه کي سيالي وکړه.»**

**رښتيا هم ، يوه خوا خو نو وکړه .**

---

## « ژوند » په يوه جمله کی

**د يو شيخ څخه يې وپوښتل چی تر ټولو ښه نيکي او تر ټولو بد عيب څه دی ؟ ده ورته وويل چی تر ټولو ښه نيکي دا ده چی خپل عيب ووينې ، او تر ټولو بد عيب دا دی چی د بل عيب ووينې !**

**هو ګرانه لوستونکې ، په دې لنډ ځواب کی د ژوند فلسفه پرته ده ، ښه ورته ځير سه .**

---

## يوازی نن لرې !

**په ټول کال کی صرف دوې ورځی دي چی هيڅ کار او هيڅ فعاليت نسې پکښی کولای : يوه پرون وه او بله سبا ده !**

**دواړې هيڅ ستا په اختيار کی نه دي بلکی يوازی نن لرې !**

**همدا نن ستا هغه سبا دی چې پرون ورته په تمه وې . نو ځان د پرون او سبا تر منځ مه ځوړند کوه ، بلکی څو ثانيې يا څو دقيقې يا-**

(c) ketabton.com: The Digital Library

څو ساعته وروسته به همدا نن هم درڅخه پرون سی . پس همدا نن یو څه وکړه .

---

## د بدئ ختمول

ږیره لرونکی غلا نه کوی بلکی غل ږیره پریښودلی سی !

لمونځ کونکی ځوک نه خطاباسي بلکی خطا ایستونکی لمونځ کولی سی !

اسلام ظلم او حق تلفي نه مني بلکی ظالم او حق خوړونکی مسلمان کیدای سی !

نو که ته ښه یې ، بدي ختم کړه . یعنی د ګناه کار څخه نه بلکی د ګناه څخه نفرت وکړه !

---

## خوځښت او تکل

هر انسان ( منجمله آدولف هټلر ) مثبت او منفی اړخ لری . هټلر وایي :

هغه اوښکی چی موږ یې په خپله ناکامي تویوو ، دا هغه خولې دي چی موږ د کامیابئ له پاره نه دي توی کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خپل عمل د لارې مل

ته به ښه وظیفه او مقام لرې ، ښه کورنۍ او قوم به لرې ، ښه نوم او نښان به لرې ، ښه کور او موټر به لرې ، ښه مال او دنیا به لرې....

آیا د دغو څخه یو شی هم قبر ته درسره ورې ، بېله عمله ؟

نو مه ناوخته کوه !

---

## سعدي صاحب څه ښه ویلی دي :

هغوی چې پریشاني او عذاب درکوی ترک یې کړه . خو هغوی چې ترک کړې پریشاني او عذاب مه ورکوه .

---

## د هوس ځپل

که غواړې چې د دې دنیا په اړه فکر وکړې ، نو محبس ته ولاړ سه بندیان ووینه ؛

که غواړې چې د هغې دنیا په اړه فکر وکړې ، نو روغتون ته ولاړ سه ناروغان ووینه ؛

او که غواړې چې د دواړو دنیاوو په اړه فکر وکړې ، نو هدیرې ته ولاړ سه د قبرونو څښتنان ووینه !

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اعتماد یعنی څه ؟

وګورئ اعتماد یا باور هغه کلمه ده چی په لوستلو یې ثانیه تیریږی ، په فکر کولو یې دقیقه تیریږی ، په پوهیدلو یې ورځ تیریږی ، په عملي کولو یې کال تیریږی ، خو په ثابتولو یې آن ټوله ژوند تیریږی !

نو پر اعتماد هم اعتماد ختم سوی دی . ځکه چی خلک بدل سوي دي !

## یو عالم عجیبه خبره کړې ده

د هغه چا څخه مه بیریږه چی کتابتون لری او ډیر کتابونه لولی ؛ بلکی د هغه چا څخه وبیریږه چی یوازی یو کتاب لری او هغه مقدس بولی خو هیڅکله یې نه لولی او نه عمل په کوی !

## الهي محرومیت

که تا لمونځ پریښود ، نو پوه سه چی راحت او برکت بیا ته پریښودلې . په ظاهره به هوسا یې خو دننه به خوسا یې . په ظاهره به شتمن یې خو باطناً به نیستمن یې . په ظاهره به عقیل یې خو اصلاً به ذلیل یې .

دا ځکه چی الله تعالی شړلی یې او په خپل حضور کی دې نه دروي . نو راوګرځه او ځان په دې امتحان کی بریالی کړه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دعا مه پرېږده

ځینی وختونه دعاوی د رب فیصلې نه بدلوي ، مګر ستا زړه بدلوي او هغه د رب د فیصلو سره مطابق کوي !

---

## د ژوند بنسټونه

یو عالم څه ښه ویلی دي : د فقر او بیوزلۍ پر مهال صادق والی ، د شتمنۍ پر مهال ساده والی ، د قدرت او مقام پر مهال مؤدب والی ، د عصبانیت پر مهال چُپ والی د ژوند د تخت څلور پایې دي .

## نیکمرغي او بدمرغي

موبایل تلیفون درونه نه دی یعنی ډېر وزن نلری او په جیب کی ښه آسانه انتقالیږی . خو دومره یې مه درنوئ چی په قیامت یې تر عهدې نسیً وتلای او د ګناه شاهد مو وی ! ( یعنی صحیح یې استعمال کړئ ) .

---

## دوه مخي

ډیرئ خلک عجیبه دي . کله چې د دوی د ګناه په اړه خبره وسي نو په ټینګار سره وایی چی « الله غفور او رحیم دی » . خو د نورو د ګناه په اړه بیا په تأکید سره وایی چی « الله سخت عذاب ورکوونکی دی » !

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بې انصافي

که موږ قرآن کريم هيڅ نه تلاوت کوو او پورته مو په دوړو کی مياشتی ، آن کلونه همداسی ايښی وی ، نو بيا دا حق لرو چی د غم او مصيبت پر مهال يې راواخلو او الله ته يې شفيع کړو ؟ آيا دا بې انصافي نه ده ؟

که موږ د صدقې له پاره په جيب کی په خورا لږ مبلغ ( سِکه ) پسی ګرځو . خو همدا مهال د الله څخه د جنت لوړترين مقام غواړو . يعنی څومره ناڅيزه عطا کوو او څومره ستر عوض طلبوو ! آيا دا بې انصافي نه ده ؟

نو راځی چی اول خپل وجدان قاضی کړو ، بيا پر مخ ولاړ سو . دې ته د بې انصافۍ د تباهۍ ذريعه وايی .

---

## د ژوند لورئ

يو عارف څه ښه ويلی دي : « ژوند اول اختياري دی خو وروسته جبري سی . يعنی نن چی هر څه په خپل اختيار کرې ، سبا هغه په وچ زور او جبر سره ريبې .»

نو ولی ښېګڼی و نه کرو ؟!ل

---

## مشکل وخت

درې ډوله خلک هيڅ نه هيرېږی : هغه چی ستا سره يې په « مشکل وخت » کی کومک وکړ ؛ هغه چی ستا په « مشکل وخت » کی يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوازی پريښوولې ؛ او هغه چی ته يې په دغه « مشکل وخت » مبتلا کړې .

## د نفس غلامي

د شيطان د ګمراه کولو او ګناه کار کولو له پاره بل شيطان نه دی راغلی بلکی همدا نفس و چی ابليس يې ورڅخه جوړ کړ .

## اول د ځان سمون

زموږ زياترو ذهنيت د يو لړ منفی غوښتنو ، منفی برداشتونو ، منفی غبرګونونو ، منفی ګومانونو او منفی برخوردونو څخه دومره ډک دی چی د بدلون او سمون ټولی کړکۍ يې تړلی دي او هيڅ پوهاوۍ تأثير نه پر کوی .

نو موږ ايماني ، اخلاقي او وجداني مسؤليت لرو چی خپل دغه ناوړه طرزالعمل بدل کړو تر څو الله تعالی مو روان حالت بدل کړی ( الرعد : ١١ ) .

## ولی توبه ځنډوې ؟

آيا د ګناه سره دې قرارداد کړی دی چی حتمأ به يې کوې ؟ آيا د الله تعالی څخه دې تضمين راوړی دی چی تر بوډا کيدو پوری به ژوندی يې ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ګوره ! ډېرى هديرې په هغو ځوانانو ډکى دي چې غوښتل يې د زړښت پر مهال توبه وباسى . نو مه ناوخته کوه .**

**روايت دى چې کله جهنم ته ننوت (العياذ بالله) هلته يې د دنيا يو ملګرى هم ونه ليدى ، ځکه هغوى ټولو د ده له مرګه وروسته توبه ايستلې وه . نو پوه سه چې نن د عمل ورځ ده بېله حسابه ، خو سبا د حساب ورځ ده بېله عمله !**

---

## د قبر قدر !

**هغه خلک چې په ژوندوني يې په باک نه راوړو او اهميت نه ورکوو ، نو تر مړينى وروسته يې پر قبرونو کتيبه يا سوانح ولى ليکو ؟ دا هغه ته څه ګټه لرى ؟**

**نو غوره دا ده چې د ژونديو له پاره کتيبه جوړه کړو يعنى قدر يې وکړو . تر مړينى وروسته يې قدر د قبر دى !**

**د قبر قدر خو نه اسلامي اصل دى نه فلاحي . بلکى بدعت او غفلت دى .**

---

## تلياته برى

**که په دنيا او عقبا کى برى غواړې نو د خپل ژوند له پروګرامه دا خبره وباسه چې « خلک به څه وايى ؟! » بلکى پر ځاى يې دا جمله ور اضافه کړه چې « الله تعالى به څه وايى ؟! »**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سعدي صاحب څه ښه ویلی دي :

**عاقل او بې عقل دواړه لږ یا ډیر عیبونه لری . خو عیبونه یې فرق لری . داسی چی عاقل خپل عیب پخپله وینی لاکن د بې عقل عیب دنیا وینی .**

---

## د الله تعالی نافرماني څنګه کوو؟

**لومړی ـ که زموږ عقیده دا وی چی الله تعالی مو نه وینی ( نو ځکه ګناهونه کوو ) ، پس یقیناً چی کافران یو ؛**

**دوهم ـ که زموږ عقیده دا وی چی الله تعالی مو وینی خو بیا هم ګناه او د هغه نافرماني کوو ، نو ډیر بې حیا او سپین سترګي یو ؛**

**دریيم ـ که دا وایو چی د الله تعالی عذاب تحمل کولی او زغملی سو ، نو درواغجنان یو ؛**

**څلورم ـ دنیا په نصیب سره حاصلیږی خو آخرت په محنت سره ګټل کیږی ، لاکن موږ برعکس د دنیا له پاره محنت کوو خو آخرت و نصیب ته پریږدو ، نو دا زموږ ناپوهي او ګمراهي ده .**

**هو ، د دې منکراتو کول او د اوامرو نه کول ښېله شکه د الله تعالی نافرماني او سرکښي ده چی انجام یې بربادي ده .**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مهمه تولنيزه باريکي

د منفي او غلطو خلکو سره د تګ راتګ يا ارتباط بندوَل يوه ناچاري ده ، خو دا ليرى والى بايد په دې معنى نه وى چې د هغوى څخه کرکه لرو ، بلکې د ځان درنښت ( يعنى د بې قدرۍ مخنيوئ ) دى .

## الـهي ګرانښت

انسان پر الله تعالى باندى دومره ګران دى چى د ده په خاطر يې شيطان له ځانه ليرى کړ . خو انسان دومره غافل او ناشکره دى چى د شيطان په خاطر يې الله تعالى له ځانه ليرى کړ !

## مهمه باريکي

اې انسانه ! ته د لنډ ژوند له دې سفره فقط يو وار تيرېږې . نو که په دې سفر کى پر انسانانو کوم لوى يا کوچنى احسان کولاى سې بايد ويې کړې . ځکه چى بيرته پر همدې لار بيا هيڅکله نه راګرځې !

## ننى لويه ستونزه

زموږ لوى مشکل دا دى چى د افراط يا تفريط په حال کى يو : يا له حده وتلي قهرجن يو ، يا له حده وتلي خوش باوره يو که عقده يا عقيده ده ، که سياست او قضاوت دى . دواړه حالتونه مو ناکامۍ ته بيايي !

(c) ketabton.com: The Digital Library

## عبادت د بل له پاره

د يو عالم څخه چا پوښتنه وکړه چې يوه ښځه ډير زيات عبادت کوي ، د ورځې يې روژه وی او د شپې لمونځونه او تلاوت کوي ، خو له بده مرغه چی غیبت هم ډير کوي . د دې ښځی حالت څنګه بولې ؟

عالم ورته وويل : دا ټول عبادتونه د نورو له پاره کوي . ځکه ، خپل نېک اعمال يې هغه چا ته ځي چی غيبت يې کوی .

هو ، د دغسی مسلمانانو نيک اعمال د غيبت په واسطه داسی خوړل کيږی لکه وَينه ( موريانه ) چی لرګی خوری . زموږ ټولنه متأسفانه په دغسی معتادانو ډکه ده . نو د هغوی له پاره اوس هم ناوخته نه دی !

---

## د ګناه شاهدان

ته په پټه او يوازيتوب کی ګناه کوه . مګر لږ تر لږه څلور عيني شاهدان لرې چی هغه زړه ، سترګي ، غوږونه او لاسونه دي .

الله تعالی فرمايي چی په دغه ورځ به د دوی ( يعنی ګناه کارانو ) خولې بندي ( يعنی مُهر ) کړو نو د هغوی لاسونه به خبری وکړی او پښې به يې شاهدي ادا کړی چی په دنيا کی يې څه کول ( يس : ۶۵ ) .

نو هغوی چی په ښکاره ګناه کوی ، څومره شاهدان به يې وی ؟!

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لویی او ځانپالنه

**خواجه نظام الدين اوليا څه ښه ويلی دي :**

**اې مسلمانه ! هر مسلمان چی ووينې تر ځان يې ښه وبوله که څه هم ته اطاعت کونکی يې او هغه ګناه کار وی . کیدای سی دا ستا وروستی اطاعت او نيکي وی خو د هغه وروستۍ ګناه وی ، چی له امله به يې ته ګناه کار سې او هغه نيکوکار!**

**هو ، ځان تر نورو ښه بلل ( په علم ، ظاهري عزت ، مؤقتي مقام ، قوم ، رتبه او نورو کی ) هغه ګناه ده چی د نعمتونو د هلاکت سبب کیږی .**

## د وجدان محکمه

**د وجدان محکمې ته هرومرو مراجعه وکړه . ځکه چی هلته قطعاً غلطه فيصله نه کيږی .**

**هلته نه حاضرين سته ، نه مراجعين ؛ نه شاهدان سته او نه مدافع وکيلان ! بلکی صرف « دوه محرران » او يو « ستر قاضی » سته او بس !**

---

## مجازات او مکافات

**تر يوې ګناه وروسته د بلی ګناه کول اصلاً د هغې سزا ده ؛**

**تر يوې نيکۍ وروسته د بلی نيکۍ کول اصلاً د هغې اجر دی .**

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د دعا عظمت

**رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایی : عمر نه زیاتیږی مګر په نیکئ سره ، تقدیر نه بدلیږی مګر په دعا سره ( ابن ماجه ۴۰۲۲ ) .**

**نو د ځان په شمول هر چا ته دعا کوه . څه معلومه ده که د یو چا قسمت ستا دعا ته معطله و؟!**

---

## نابللی میلمه

**دا داسی بې پروا میلمه دی چی د سهار او ماښام خیال نه ساتي . د ننوتو په نیت د کور دروازه هم نه ټکوي او هیڅ دیوال یې مخ نسي راګرځولای . مال او دولت یې هم مخه نه سي نیولای . نه رشوت– اخلي او نه واسطه پیژني . دا ډیر بې لحاظه میلمه دی چی د هیچا پروا نه کوی که هغه بوډا وی ، که ماشوم وی ، که جوړ وی او که ناجوړ .**

**هو ، دا نابللی میلمه « مرګ » دی چی نابېره راځي او هر څه لوټوي . نو چمتو اوسه او توبنه برابره کړه داسی نه چی ناوخته سی !**

---

## انسي شیطان !

**د نورو هغه عیبونه مه څرګندوه چی الله تعالی په پرده کی پټ ساتلی دي . یعنی د الله تعالی په اراده او فیصله کی مداخله مه کوه او له ځانه انسي شیطان مه جوړوه !**

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

## الهي تړاو او دعا

دا څومره ښه احساس دی چې کله د الله تعالی سره د خپل زړه خبره کوو نو هغه له مخکی څخه لا ښه پرې خبر وی ، خو بیا یې هم زموږ څخه ویل غواړی .

---

## ځان ارزوَنه

شیخ الاسلام ابن تیمیه (رح) څه ښه فرمایلی دي : « مومن په حق خبره راضي وی که یې په ګټه وی که یې په زیان ؛ خو باطله خبره یې ناخوښه وی که یې په ګټه وی که یې په زیان ! »

خو موږ ؟!

## په ګرېوان کی وګوره !

کافر چې ووینې نو د اسلام پر نعمت د الله حمد او ثنا ووایه ؛

فاجر او ګناه کار چې ووینې نو پر تقوا باندی د الله حمد او ثنا ووایه ؛

جاهل چې ووینې نو د علم له امله د الله حمد او ثنا ووایه ؛

ناروغ او مبتلا چې ووینې نو د عافیت له امله د الله حمد او ثنا ووایه .

په ګریوان کی وګوره ! ړوند د دنیا د لیدلو ، کوڼ د اوریدلو ، ګوډ د یو ګام اخیستلو او ګونګی د یوې خبری کولو ارمانجن دی .

خو ته لیدلای سې ، اوریدلای سې ، تللی سې او ږغیدلای سې .

لا د الله شکر نه ادا کوې او نور اضافي او تجملي شیان هم غواړې ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ودرېږه او وګوره !

لا تر څو به زمانه ترټې ؟ دا يې حل لاره نه ده . متل دی چې له مردارو اوبو خپل کالي راټول کړه !

د زمانې څخه شکايتونه مه کوه . بلکې خپل ځان بدل کړه چې الله دې روان حالت بدل کړی ( الرعد ١١ ) .

---

## کثيف او نجس عمل

يو ځل خو سترګې پټې کړه او داسې فکر وکړه چې د مړه انسان سرې او تازه غوښې ژويې او په خوله کې يې اړوې را اړوې . تر شونډانو دې د دې غوښو وينې څڅيږی ، او د سرو غوښو ټوټې دې په غاښونو کې يو څه هم بندی وی .

دا مهال به دې سترګې څومره سرې وی ، زړه به دې څومره ډېره وی ، څيره به دې څومره وحشی وی او حالت به دې څومره شهواني وی . دا به څنګه نجس او ناولی عمل وی ، ها ؟

آيا دغسی کرغيړنه صحنه دې خوښه ده ؟ که ځواب مثبت وی نو ښه ډير غيبت کوه !

که نه ، اوس هم وختي دی او قسم واخله چې نور به غيبت نه کوم . د غيبت اورېدل هم په غيبت کی شامل دی ، منع يې کړه يا ترې روان سه . دا به نو د ځان ، کورنۍ او ټولنی سره ستا نيکي وی . ولی دغسی وړيا احسان او نيکي نه کوې ؟

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تېولنيز انحراف

دا څومره تهمتونه او لفظي ګوزارونه روان دي . خو تريخ حقيقت دا دی چې موږ دومره کوښښ او هلی ځلی د ځان د سمون او بدلون له پاره نه کوو څومره چی تر ځان د نورو د غلط ثابتولو له پاره يې کوو .

---

## د غيبت او حسد پيوستون

علما وايی چې انسانان په درېو دليلونو سره تر شا خبری درپسی کوی يا ستا غيبت کوی :

لومړی ـ کله چې ونسي کړای ستا دريځ ته ورسيږی يا ستا حالت ولری ، نو تر شا خبری درپسی کوی .

دوهم ـ کله چی هغه څه ونلري چی ته يې لرې ، نو دې غيبت او پس ګوبي کوي .

درېيم ـ کله چی وغواړي ستا په رقم ژوند غوره کړی يعنی ستا تقليد وکړی خو نه يې سي کولای ، نو غيبت او تر شا خبری درپسی کوی .

دې ته د غيبت او حسد پيوستون وايی . راځی چی اوس نو د همدې فارمول پر اساس خپلو ځانو ، خپلو دوستانو او خپلو مجلسيانو ته وګورو او هر يو جلا جلا و ارزوو . ښايی هيڅوک يا خورا لږ ځنی خلاص وی .

لا بيا هم نه ترې منع کيږو ؟ استغفرالله !

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

## له فتنو او جنجالو ځان ساتنه

**آيا د چُپ والې يا خاموشۍ اهميت درمعلوم دی ؟**

**خاموشي ستر نعمت دی په تيره کله چی : اختلافات ډير وی ، آوازونه لوړ وی ، شخړی لاينحله وی ، علم لږ وی ، او دليل بې وسه او بې کسه وی !**

---

## د خلکو امتحانول

**که د چا صبر او حوصله ازمايې نو انتقاد پر وکړه ، بيا وګوره !**

**که د چا اخلاص ازمايې نو مشوره ځنی وغواړه ، بيا وګوره !**

**که د چا غرور او ځانپالنه ازمايې نو خبره يې ومنه ، بيا وګوره !**

**که د چا خوی او خصلت ازمايې نو سفر ورسره وکړه ، بيا وګوره !**

**او که د چا سخاوت ازمايې نو پور ترې وغواړه ، بيا وګوره !**

---

## له ډوبيدو ډډه وکړه

**ځان خوشحاله ساته . ځکه په تشويش يا پريشانۍ سره د پرون مشکل قطعاً نه حليږی بلکی د نن سکون هم له منځه ځي او د يو مبهم سبا په غيږ ورځې !**

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لا تر کله ؟

همدا اوس دې پر تېر عمر او ګناهونو د الله تعالی څخه مغفرت وغواړه . د توبې په سپیڅلو اوبو ځان ومینځه .

ملاقات نږدې دی او هره شبېه امکان لري چې الله تعالی دې خپل حضور ته وغواړي . نو ښه نه ده چې په خیرنه او دوړنه څېره یې په وړاندې ودرېږې . که ته وغواړې یا نه ، که دې خوښه وی یا نه ، دا لحظه او دا صحنه حتماً درباندی راځی .

اوس هم وختی دی . ساه لا چلیږی . پلمې بندی کړه . نن د عمل ورځ ده بېله حسابه ، خو سبا د حساب ورځ ده بېله عمله !

---

## شتمن فقیر

کله چې ته وصیت پاڼه لیکې ( یا شفاهي وصیت کوې ) ، آیا خبر یې چې یوازینی څوک چې ستا د مال او دولت یا جایداد څخه محروم پاتیږي ، هغه ته پخپله یې ؟!

چا ته خپل سهم پرېږدې ؟ آیا هغه اولاد ته چې ډېر ژر به دې هیر کړی ؟ که هغه اولاد ته چې ستا د سهم یوه سلنه به هم نه درپسی خیراتوي ؟

نو اوس هم وختي دی او لا ژوندی یې ، ستا د خپل سهم زیاته برخه صدقې ته وقف کړه ، داسی نه چې ناوخته سی ! آیا پوهیږې چې صدقه خورا افضل عبادت دی ؟ نو ولی یې ضایع کوې ؟

ولی دا کار هغه اولاد ته پرېږدې چې د دنیا په کارونو کی تر غوږونو پوری ډوب دی ؟ که همداسی ونکړې نو پوه سه چې شتمن فقیر یې ( یعنی دلته شتمن او هلته فقیر ) !

(c) ketabton.com: The Digital Library

## رښتيا او دروا‌غ

رښتيا حق دی او درواغ ناحق دی . رښتيا د انسان تر پيدايښت پخوا لا موجود وو ، خو درواغ موجود نه وو . يعنی حقيقت طبيعی دی خو درواغ مصنوعي دی .

پس ويلی سو چی حقيقت شتون لری خو درواغ اختراع کيږی

---

## د حلال برکت

مالک بن دينار (رح) فرمايلی دي : که څوک تر يوه حرام دينار تير سی نو دا هغه لره تر يو لک دينارو صدقه کولو هم ښه دی .

## ننني دوستان

که يو چا ته اضافه له هغه ارزښت ورکوې چی ورته « لازم » وی ، نو ځان ته اضافه له هغه تاوان رسوې چی درته « لازم » وی ! دا چی بوغۍ ( فوقانه ـ غباره ) دربانده چاودي مه خښميږه . پخپله دې تر حد زياته هوا ورکړې وه !

---

## الهي سزا :

د هغه انسان د خاموشۍ يا پټي خولې څخه وبيريږه چی تا يې زړه آزار کړی دی خو هغه هيڅ نه وايی يا هيڅ نسي کولای مګر هر څه الله تعالی ته پريږدي . نو خبردار اوسه چی الله تعالی يې هم ژر يا وروسته بدله درڅخه اخلی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## الهي رحمت

د ابن سینا څخه يې وپوښتل چی ژوند څنګه درباندی تیریږی ؟

ده ورته وویل چی د ګناه کاریٔ سره سره د الله تعالی دومره نعمتونه راباندی اوري چی نه پوهیږم د الله تعالی شکر د څه له رویه ادا کړم ، آیا د نعمتونو پر ډیروالې يې او که د ګناهونو پر تیروالې يې ؟

---

## ستر احسان

که یو چا ته داسی جمله ووايې یا داسی خبره وکړې چی له امله يې هغه شخص الله تعالی ته یو څه ورنږدې سي او بدي يې یو څه لږ سی ، نو په نن عصر کی دا یوه ستره نیکي ده چی د هر چا نه په نصیب کیږی .

څومره آسانه ! بس یوه پاکه اراده غواړی .

---

## ترخه حقایق :

که یو چا د بل په صداقت کی شک کاوه نو دا درواغجن دی ، که نه صادق دی ؛

که یو چا په مجلس کی په هره موضوع کی ځان هرکاره او پوه باله نو جاهل دی ، که نه عالم دی ؛

که یو چا پر بل ډیره بد ګوماني کوله نو په زړه تور دی ، که نه په زړه پاک دی .

همدا زموږ د ټولنی یو څو ترخه حقایق دي . ترخه حقایق :

(c) ketabton.com: The Digital Library

**که یو چا د بل په صداقت کی شک کاوه نو دا درواغجن دی ، که نه صادق دی ؛**

**که یو چا په مجلس کی په هره موضوع کی ځان هرکاره او پوه باله نو جاهل دی ، که نه عالم دی ؛**

**که یو چا پر بل ډیره بد ګوماني کوله نو په زړه تور دی ، که نه په زړه پاک دی .**

**همدا زموږ د ټولنی یو څو ترخه حقایق دي .**

---

## د زړه ډاډ او سکون :

**پیغمبر علیه السلام فرمایی : هر وخت چي دې اراده وکړه چي د یو چا عیب بیان کړې ، نو خپل عیبونه در په یاد کړه .**

## د علم انفلاق

**د یو عارف څخه یې وپوښتل چی علم کله ماتیږی او کمیږی ؟**

**ول کله چی ملنګ یا درویش فقر وکړی ، شاعر غرض او مرض ولری ، ملا تاجر او کاروباري سی ، پوه او عالم د دنیا شوقي سی نو دا هغه وخت دی چی علم به تجزیه کیږی !**

---

## له غمه بې غمۍ :

**رسول الله صلی الله علیه وسلم چي به کله د یو غم یا مصیبت سره مخامخ سو نو نفل لمونځ به یې کاوه . (رواه احمد او ابو داود)**

**نو راځی چی موږ هم دغم غلطولو دغه بهترینه طریقه خپله کړو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## متوجه اوسه :

**که خپل نفس د خیر په کارونو کی لګیا نکړې ، نو هغه به دې ضرور د شر په کارونو کی بوخت کړی .**

---

## له مرګه ویره

**اصلی او واقعی مسلمان هیڅکله د مرګ له یاده نه بیریږی ، دا ځکه چی مرګ حق دی او د حق منل پر هر مسلمان فرض دی . او بل دا چی یو مؤمن ځکه د مرګ له یاده نه بیریږی چی اسلامي ارکان او فرایض یې پر ځای کړي وی .**

**خو د دې برعکس د مرګ له یاده هغه کسان بیریږی چی اسلام یې خورا لږ او یا هیڅ نه وی عملي کړی ، نو دغسی انسان د خپلو ګناهونو له امله د مرګ له یاده بیریږی .**

---

## د مځکی د سطحی او بطن فرق

**عجیبه دنیا ده . په ژوند کی د ټولو انسانانو نومونه او لباسونه بیل بیل وی . یو شتمن وی بل غریب ، یو بې مقامه وی بل لوی مقامه ؛ یو انجینیر وی بل ډاکټر ؛ یو استاد وی بل شاګرد ؛ یو سوداګر وی بل سوالګر.....**

**خو تر مړینی وروسته د ټولو یو نوم وی : مَیّت ( یعنی مړئ ) یا جنازه !**

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ټولو يو ډول قبر وی ، د ټولو يو ډول کفن وی ، د ټولو يو ډول لحد وی هغه که شاه دی يا ګدا !

په رښتيا هم تر مځکی لوړ او تر مځکی لاندی يوه او بله دنيا ده ، خو واټن يې فقط يو نيم متر دی !

## فاني ژوند

حضرت علی (رض) فرمايلی دي چی ژوند فقط دوې ورځی دی . يوه ورځ ستا په ګټه او بله يې ستا په زيان ده .

نو په هغه ورځ چی ستا په ګټه ده « غرور » مه کوه او په هغه ورځ چی ستا په زيان ده « صبر » کوه .

په رښتيا چی د برياليتوب عملی نسخه ده !

---

## د ناپوهانو حق

متل دی چی د عقل وړی او د پيسو موړ نسته . علما وايی چی پر موږ ناپوهان درې حقونه لري :

لومړی ـ صبر او زغم : د هغوی هر ډول ناوړه چلند به زغمئ او تحمل به کوئ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهم ـ شفقت او مهرباني : كه د هغوى څخه كوم غلط او ناسم كار ووينئ نو د كركې پر ځاى به شفقت پر كوئ .

دريم ـ لارښوونه او متوجه كول : د هغوى دريم حق دا دى چې سمه لارښوونه به ورته كوئ ، خير دى كه هغوى يې مني يا نه .

هو ، كه موږ او تاسو دا مجربه نسخه د هرى ورځى تلن لاره وګرځوو ، يعنى د ناپوهانو حق ادا كړو ، نو دنيا او عقبا به مو ځلانده وى .

## ودرېږه او شا ته وګوره !

د غلطيو په منلو ، زړه سَمَوَلو او ګناه پريښودلو كى ځنډ مه كوه ، ځكه لاره چې څومره اوږدېږى راستنېدل هغومره ګرانيږى .

---

## خورا مهم تجارت

كله چى د دنيا د مفليسىَ څخه په تنګ راسې او د رزق دروازې درته وتړل سى نو د الله تعالى سره تجارت وكړه ، يعنى صدقه وركړه .
امتحان يې كړه !

ته به ووايې چى هيڅ نلرم ، څه شى صدقه كړم؟! داسى نه ده ، ښه خبره هم صدقه ده ، ښه عمل هم صدقه ده ، مرسته هم صدقه ده ، هڅونه هم صدقه ده ، موسكا هم صدقه ده....

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

## عواطف

کله چی ګناه کار انسان وژړل ، نو پوه سه چی خپل پیغام یې تر الله تعالی پوری ورساوه .

مګر کله چی د چا په سترګو کی قحطي راغله نو پوه سه چی زړه یې سخت سوی دی . ظالم دی ، تريې ګوښه سه او احتیاط ورسره کوه !

-----------------------------------

## عقیده او حقیقت

یو عالم ویلی دي : عقیده کیدای سی چی زما عقیده وی ، ستا عقیده وی ، د فلاني عقیده وی ؛

خو حقیقت نسي کیدای چی زما حقیقت وی یا ستا یا د فلاني حقیقت وی .

حقیقت اصلاً د هیچا مربوط نه دی بلکی آزاد او د ټولو دی .

له همدې امله خلک تل د عقیدې په سر جنګیږی نه د حقیقت په سر !

------- -------------------------- ----------

## ازلي دښمن

ښایی ځینی کسان امریکا ، برتانیه ، روسیه ، اسراییل..... د بشر تر ټولو ستر دښمنان وبولی . خو دوی یوازی د انسان دا دنیا خرابولی سی . اصلي دښمن بل دی چی تر دوی ډیر خطرناک دی . هغه کولای سي چی د انسان دنیا او آخرت دواړه خراب کړی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دغه ستر او خطرناک دښمن « ابلیس » نومیږی چی لقب یې « شیطان » دی . دئ تر ټولو ستری وسلې او تجهیزات لری . آن یوه ثانیه هم د انسان سره له جنګه نه بېکاره کیږی .**

**نو زموږ جنګ د دغه لعین دښمن سره فرض دی .**

# الحمدُلله کتاب پاې ته ورسېد

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**